شهادت

د بخښنه ناداره اسلامي مبارزه ستاسو شهادت... (شعار)

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

نمبرمسلسل (١٣٤١) سال نزدهم شمارهٔ (١٣٧) دوشنبه (٢٠) حوت ١٣٧٥ هـ .ش (٢) ذی القعده (١٤١٧) هـ .ق (١٠) مارچ ١٩٩٧ م

الهی لارښوونی

ال م

او ددوي پيغمبرورته وويل : يقيناً چي الله تاسولره طالوت پاچا ټاکلي دی. وويل څنګه به ده لره (ورته) وي دپاچايي پرموږ حال داچي ترده ته موږ دپاچايي ډيروړاومستحق يو . او (ده ته) نه ده ورکړي شوي دمال (شتمني) پراخوالي (پيغمبر) وويل : بيشکه چي الله غوره کړي دي هغه پرتاسو . او ده ته ئي په علم اوجسم کې پراخوالي زيات کړي اوالله دي چي ورکوي خپله پاچايي چاته چي وغواړي . اوالله واسع (دپراخ والي خاوند) دي ښه پوه دي. اوخپل پيغمبرورته وويل : يقيناً چي دپاچايي نښه ئي داده چي تاسوته به هغه صندوق راشي چي په هغه کي ستاسو درب پوه ډاډګيرنه ده اوپوڅه هغه پاتي شوني چي دموسٰي ال اودهارون آل پريښي چي ملائکي ئي حمل کوي (راوړي) .

په چمن نه بخاراته

په افغانستان کښې دجنرال بابر دلړزوونکیو کارنامو یوه پاڼه

دفترجمعیت اسلامی در پاکستان بازشد

به تعقيب تغيردولت درپاکستان تعدادي از احزاب جهادي افغان به شمول جمعيت اسلامي به رهبري استاد رباني دفاترشان را درايالت سرحدي شمال غربي پاکستان (صوبه سرحد) دوباره باز کردند .

به گزارش روز نامه نيوز گرچه تغيرات قابل ملاحظه در پاليسي اسلام آباد درقبال قضيه افغانستان بنظرنمي رسد ولي مخالفان طالبان فعاليت هاي سياسي شان را درپاکستان آغازکرده اند .

آخرين انکشاف درين راستا بازگشايي دفترجمعيت اسلامي درجمکني پشاور است .

درجريان پانزده سال گذشته زماني که جمعيت

بقيه درستون «٤» صفحه «٤»

دقلعه نو په لور دجنبش پرمختګ

دقلعه نو شاوخوا زیاتي سیمي دجنبش ځواکونو نیولي

په پرونۍ جګړه کې (۹۰) کسه طالبان ژوندي نیول شوي

دجګړې په دوران کې دواړوغاړو ته دروند مرګ او ژوبله وراوښتي

دتورغونډي بندري ښارګوټي دسقوط په حال کی دی

بادغيس کب ١٩مه :

د بادغيس ولايت د مرکزقلعه نو شاوخوا درنده جګړه روانه ده خبری سرچيني وائي چي د تيرو دوو ورځوجګړو په دوران کی دواړو غاړوته د سراو مال زيات تاوانونه وراوښتي او دسيمي اوسيدونکي ئي له زيانو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ کړي دي.

د جنبش منابع وائي چي دوی د پرونی جګړي په دوران کي د طالبانو په لسګونو کسان مړه يا ژوبل کړي او (٩٠) کسه ئي ژوندي نيولي دي .

دامنابع وائي اوس ددوی (جنبش) ځواکونو د قلعه نو ښارزياتي ستراتيژيکي سيمي نيولي اوښارته د ورننوتو په حال کی دی . ايراني منابع له مزارشريف څخه رپوټ ورکړي چي جګړه اوس د قلعه نو ښارته نژدی د بازارك په سيمه کی روانه ده او د جنبش ځواکونه د قلعه نو په

پاتی «٤» مخ «٦» ستون

پاکستان طرفدار تجزیه افغانستان نیست که طالبان را برسمیت بشناسد

گوهر ایوب

اسلام آبا د١٩حوت :

سياست خارجی پاکستان تاىحال درقبال قضيه، افغانستان تغييرنكرده واسلام آباد اداره طالبان را برسميت نمی شناسد .

گوهرايوب خان وزيرامور خارجه حکومت پاکستان درگفتگو باخبرنگاران ، سياست خارجی کشور متبوعش را درقبال بحران

بقيه صفحه (٤) ستون (٧)

امریکا بخاطر تامین منافع خو دجنگ در افغانستان را دامن می زند .

پشاور ١٩حوت :

علمای پاکستان حوادث خشونت باراخيردراين کشور را محکوم کرده و آنرا به ضرر مصالح اسلام ومسلمين می دانند.

مولوی حسن جان «مدنی» شيخ الحديث وعالم مشهور پاکستانی راجع به اختلاف وکشمکش های فرقه ای در پاکستان گفته است که رهبران مذاهب مختلفه اسلامی نبايد عليه يکديگر ازخشونت وتشدد

بقيه صفحه (٤) ستون (٥)

اربکان به اردوی ترکیه هشدار داد

نجم الدين اربکان صدراعظم ترکيه اردوي هوادار نظام سيکولر را ازجدال وجبهه گيري عليه اسلام هشدارداد .

آژانس خبري رويتر به نقل از روزنامه « ييني سافاك » چاپ استانبول گزارش ميدهد نجم الدين اربکان درگفتگو باخبرنگاران گفت :« هيچ کسي قدرت مقابله بااسلام را ندارد ونميتواند مردم ديندار ومؤمن را شکست بدهد . بسياري کوشيدند چنين کاري را انجام دهند اماشکست خوردند استالين

بقيه درستون «٣» صفحه «٤»

جنرال دوستم در دیدار بانماینده وزارت خارجه امریکا :

شورای عالی دفاع خواهان حل مسالمت آمیز بحران افغانستان میباشد

گروه طالبان از حمایت بین المللی محروم است

این گروه افغانستان را بسوی نابودی کامل سوق داده است

پشاور -١٩حوت :

جنرال عبدالرشيد دوستم رئيس شورای عالی دفاع از افغانستان درديدار بانماينده وزارت خارجه امريکا تاکيد کرده است که اين شوروی خواهان حل مسالمت آميز بحران افغانستان ميباشد .

طبق گزارش منابع خبری ايران دراين ديدار که درشهر شبرغان صورت گرفت جنرال دوستم اظهارداشت :قضيه افغانستان راه حل نظامی ندارد و طالبان درغوربند ، بادغيس ، باميان و پنجشير باين بست مواجه شده اند .

نماينده وزارت خارجه امريکا که قبلاً

بقيه صفحه (٤) ستون (٧)

ملامحمدعمر"مجاهد" له بی بی سی سره په مرکه کی :

دافغانستان دمسئلي حل له پوځي لاري لاس ته راځي

دطالبانو پوځونه به ترهغي وجنګیري ترڅو دافغانستان تولي سیمي ونیسي

کندهار د کب (١٩) مه :

د طالبانو د تحريك مشر ملامحمد عمر په دی باور لري چي د افغان مسئلي حل له پوځي لاري لاس ته راځي .

هغه وويل چي د طالبانو پوځونه به ترهغه وخته وجنګيږي ترڅو چي د افغانستان ټولي برخي نه وي نيولي . د بی بی سی خبريال له کندهار نه وايي چي خلك د ملامحمدعمر په هکله ډيرڅه معلومول غواړي خوله هغه سره ليدل ډيره ډيره مشکله خبره ده . ملامحمدعمر اکثره د خبريالانو سره ليدل نه غواړي او تراوسه يي يواځي له يوه خبرنګار سره ليدلی اوهغه رحيم الله يوسفزی دی .

پاتی «٤» مخ «٦» ستون

امروز اولین طیاره حجاج پاکستانی عازم سعودی می شود

قراراست امروز اولين طياره پی کی ١٤٠١ خط هوايی پاکستان حامل ٤٠٠ نفر عازم زيارت بيت الله شريف ازميدان هوايی کراچی به صوب جده پرو از کند .

به گزارش آژانس خبری رسمی پاکستان به تعقيب آن دوطياره ديگرنيز حامل ٩٤٠ نفرحجاج درهمين روز کراچی را به قصد جده ترك می کند .

د وحدت اسلامی ویاند حیدری :

دطالبانو په خلاف په شمالي ولایتونوکې غونډي رواني دي

هزاره جات به هیڅکله دطالبانو ترکنترول لاندې رانشي

باميان – دکب ١٩ مه :

دطالبانو په خلاف په شمالي ولايتونوکي غونډي رواني دي .

داخبري دوحدت اسلامي دګوند وياند « حيدري » دتيري يکشنبي په ورځ له زاهدان راديو سره ديوي مرکي په ترڅ کي وکړي .

پاتی «٤» مخ «٤» ستون

٣٢٠٠ خارجی درزندانهای ایران محبوس اند

حدود ٣٢٠٠ بيگانه درزندان های ايران زندانی اند . اين افراد به اتهام دست داشتن درقاچاق وکاروبار مواد مخدره بازداشت ومحبوس شده اند .

براساس گزارش آژانس خبری فرانسه

بقيه درستون «٦» صفحه«٤»

تا آزادی کامل افغانستان به جهاد خود ادامه میدهیم

ملا متقی باردیگر روسیه ، تاجکستان و ازبکستان را به مداخله درامور افغانستان متهم کرد

تبلیغات خصمانه ایران علیه طالبان زیانبارتر ازحمایت نظامی مخالف ها است

کابل – ١٩ حوت :

اداره طالبان کشورهاي روسيه ، ازبکستان ، تاجکستان را به مداخله درامورداخلي افغانستان متهم کرده، گفته است که اين کشورهابه ائتلاف جنرال دوستم درشمال افغانستان کمك مالي وتسليحاتي مي نمايند.

ملاامیرخان «متقي » سرپرست وزارت اطلاعات وکلتور اداره طالبان باابراز اين مطلب اظهارداشت ماشواهد موثق دردست داريم که اعطاي کمك هاي مالي ونظامي مسکو ، تاشکند ودوشنبه به ائتلاف جنرال دوستم راافشا مي کند ».

ملامتقي که باخبرگزاري رويتر درکابل

بقيه صفحه (٤) ستون (١)

دکابل پوهنتون پرون دنارینه زده کوونکو په مخ پرانیستل شو

طالبان اجازه نه ورکوي چي پوهنتون دتوندو سیاسي فکرونو ځای وی

کابل

دکابل پوهنتون ورووسته له شپږو مياشتو بنديدونه بيرته ږنارينه زده کوونکو په مخ پرانستل شو .

دکابل پوهنتون د لابراتوارسامان تلری، پخلنځی تلری، لږکتابونه لری ، لږی چوکيږ لری او اوس پوهنتون د درس ورکوونکو

پاتی «٤» مخ «٦» ستون

دافغانستان په شمال کی دښځو دټولني غونډه :

طالبانو دښځو په برخه کی ټول قوانین تر پښو لاندې کړي

مزارشريف – کب ١٩ مه :

دافغانستان په شمال کي دښځوټولني غونډه وکړه . دټيوالو خبري آژانسونو دريوټ له مخي په دغه غونډه کي چي په لسګونو ښځو برخه اخستي وه اودمزارشريف په مرکز کي وشوه

پاتی (٤) مخ (٥) ستون

روسي عسکرو (٦) تاجکي مجاهدین شهیدان کړل

جګړه دتاجك افغان پولي ته نژدې دپنج په سيمه کی رامنځ ته شوه

دوشنبه – دکب ١٩ مه :

په تاجکستان کي ميشته روسي عسکرو ددوو بيلابيلو نښتوپه ترځ کي ٦ تاجکي مبارزين شهيدان کړل .

دنړيوالوخبري آژانسونو دريوټ له مخي پرون سهار په تاجکستان کي ميشته روسي عسکرو دالفغان تاجك پولي ته نژدي دپنج په سيمه کي دتاجکي مبارزينو په دووبيلابيلو سنګرونوحمله وکړه چي په نتيجه کي ٦ تاجکي مبارزين شهيدان شول .

روسي مامورين وايي چي په جګړه

پاتی «٤» مخ «٦» ستون

جهانیان برای تامین حقوق زنان افغان توجه خاص نمایند

فتانه گیلانی

اسلام آباد ١٩حوت :

لازم است سازمان ملل، متحد ادارات حقوق بشر وکشورهای همجوار در زمينه تامين حقوق، زن ،درافغانستان همکاری نمايند .

فتانه اسحق گيلانی رئيسه سازمان زنان

بقيه صفحه (٤) ستون (٥)

اعلان جنازه

حاجی نجيب ، حميدالله ، محمدجعفرصرافان چوك يادګار پسران،حاجی محمد انور خسربره . محمد خليل، عبدالجليل ، ابوبکر دامادان . گل آقا ، خان آقا ونورآقا باجه ها . نسبت وفات حاجی خيرمحمد به اطلاع دوستان ميرساند که جنازه امروز دوشنبه ساعت ٣٠ : ١٠ازمنزل شان و اقع رود صديق ويليفرسوسيايتی خانه نمبر(٣٦) برداشته شده درهديره پاوکه به خاك سپرده ميشود، مراسم فاتحه خوانی بعداً اعلان ميشود .

اناالله واناالیه راجعون

گوهر ايوب خان وزير خارجه پاکستان و دوينګوسيازون جر سکرتر وزارت خارجه فلپين موافقتنامه ای را روز دوشنبه در اسلام آباد امضا کردند . نوازشريف صدراعظم پاکستان و فيدل راموس رئيس جمهور فلپين نيز درين مراسم شرکت دارند.

کشمیري مبارزین دحکومت خلاف په پراخه اعتراضونو لاس پوري کوي

سرينګر – دکب ١٩ مه :

دکشمير دمسلمانو مبارزينو څو جهادي ډلو اعلان وکړ چي په جمو اوکشمير کي به دفاروق عبدالله دحکومت په خلاف خپل پراخ اعتراضونه پيل کړي .

بقيه صفحه (٤) ستون (٧)

بهمه اهل ایمان بشارت باد که شهادت... (نستعلیق)

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

مؤسس : انجنیرحکمتیار

ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ

تحت نظر هیئت تحریر

تیلفون : (۲٦۲٤۸۷)

آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

دکولاب اړی ...!

په دي ورځوکي دتاجکستان په جنوبي سیمه کولاب کي داحمدشاه « مسعود » دپوځوادوجوړیدل دډله ایزي مفاهیمي دنړیوالو وسایلومهم خبردي . داخبروائي چي په کولاب کي دمسعود مهمي پوځۍ اډي جوړشوي دي اوهره ورځ له نوموړي ځاي نه دافغانستان په داخل کي دمسعود پایګاوو هلیکوپترونه تګ راتګ کوي. په دي هلیکوپترونو کي له پنجشیراودمسعود ترواک لاندي ځینو نورو مرکزونو څخه ځیني قیمتي شیان اوداسي مواد چي دجګړي په ډګرکي ورته عاجله اړتیانه وي تاجکستان ته وړل کیږي او د اړتیاوړ بعضي مواد پکي له تاجکستان نه راوړل کیږي .

په دي علاوه دکورنیو اوافرادو دنقل اوانتقال چاره هم پکي ترسره کیږي .

پرون دطالبانو ویاند یوواري بیا دروسانو په مداخله اعتراض وکړ اووئي ویل چي روسان په خپله اعتراف کوي چي دوي دطالبانوله مخالفینو سره مرسته کوي . او طالبان دروسانو دډیري څرګندي مداخلي ثبوتونه لري .

که دطالبانو هدف داوي چي ثابته کړي چي روسي پوځونه دمسعود ترڅنګ جنګیږي، نوددي ثبوت نه امکان شته اونه وریاندي څوك باورکولاي شي اوکه مقصد ئي دنورو مرستووي نوبیا خولکه چي طالبان په خپله وائي روسان اعلان کوي چي دمسعود، استاذ رباني او جنرال دوستم ملاتړ کوي . یواځي ملاتړنه بلکي دهغوي اداره قانوني حکومت بولي او خپل اجراات رسمي اواصولي ګڼي . ظالبان نشي کولاي چي داموضوع په یوه نړیوال ستیج باندي په اصولي توګه مطرح کړاي شي .

ځکه څوك دهغوي په اوازباندي غوږ هم نه ګروي اودلته چي باید طالبان دخپلي دي موضع په پوچتوب وپوهیږي چي له « امیرالمومنین » نه ئي نیولي تر « مولوي شهاب الدین » پوري ئي ټول زمزمه کوي اووائي چي دوي نه دهیواد په داخل کي دچاپروالري اونه په بهرکي .

دوهمه موضوع داده چي کله موږ وایو چي طالبان په خپل اوسني روش سره دشمال په نیولو جګړه پاي ته نشي رسولاي ، نو مقصد موداوي چي طالبان به دهیواد له پولونه بهرپرتواو دهیواد دننه واقع داسي « کولابونو» سره مخامخ کیږي ، دکوم په باب ئي چي اوس غوغائي ګډه ده ...!

قسم په قرآن کی

حکمتیار

الذاریات

دالذاریات په سوره کښ په لاندی شیانو قسم خوړل شوی .

۱ - الــذاریــات - پـــورتــه الوزوونکی

۲ - الحاملات وقرا - دبار حمل کوونکی

۳ - الجاریات یسرا - په آسانی سره تلوونکی

٤- المـقـسـمـات امـرا . دکارتقسیموونکی .

ددی قسمونو نه وروسته پرله پسی راځی :

انما توعدون لصادق . وان الدین لواقع .

هغه څه چی وعده یی درکول کیږی حتماً ریښیا کیدونکی ده او دکړو وړو بدله حتماً ترسره کیدونکی ده .

ددی قسمونو په اړوند باید لاندی ټکو ته توجه وکړی :

الف : په الذاریات کی چی کوم څه ته اشاره کیږی باید په حاملات ، جاریات او مقسمات کی عین شی مراد وی - او دټولو ترمنځ باید حتماً د اشـتـراك واضـح وجـه وی ، ځکـه دتعقیب (ف) چی وروستی شیان له لومړنی سره مرتبط کوی همدا مطلب افاده کوی .

ب : په عربی کی په (الف - ت) سره یا حقیقی مونث جمع کیږی او یا غیر ذوی العقول - داصفات په ملائکو نشی تطبیق کیدلی ځکه ملائکی نه غیر ذوی العقول دی او نه مونث حقیقی .

مونږ داسی مؤنث حقیقی نشو موندلی چی کاربی پورته الوزول - دکوم بارحملول - په آسانی سره تلل اودکوم مهم اوستر کار تقسیمول وی نه مونږ باید دګورو چی داصفات په کومو غیر ذوی العقولو انطباق کو ی.

ج - په قران کی لولو چی بادونه وریځی حمل کوی - له ځان سره یی لری ځایونو ته وړی وریځې په مختللو سمتونو ویشی - او دباران وریدو باعث کیږی او په همدی باران سره ددی هستی ترټولو ستر کار ، چی دمړی ځمکی ژوندی کیدل - ددانی اومیوی راشنه کیدل دی - ترسره کیږی - لکه چی فرمایی : .

و هوالذی ارسل الریاح بشرا بین یدی رحمته حتی اذا اقلت سحاباً ثقالا سقنه لبلد میت فانزلنا به الماء فاخرجنا به من کل الثمرات . کذلك نخرج الموتی لعلکم تذکرون .

او دی هماغه دی چی بادونه یی - دخپل رحمت (باران) نه دمخه دزیری په حیث ولیږل - ترڅو چی درنی وریځی پورته کړی ،نو د مړه ښار په لوری یی خوزو - نو په همدی سره او به راناژلوو او بیا وریاندی هر راز میوی راباسو همدا راز به مړی راباسو ،ترڅو یادونه وکړی - دا آیتونه ښیئی چی ،بادونه وریځی حمل کوی .

- دباران دوریدو - او د مـړی ځمکی د ژوندی کیدو وسیله ګرځی . او دقیامت په ورځ به دمړو بیرته ژوندی کیدل همداسی ترسره کیږی .

په بل ځای کی راځی :

والله الذی ارسل الریح ، فتثیر سحابا . فسقنه الی بلد میت فاحیینا به الارض بعد موتها کذلك النشور .

فاطر

او الله هماغه دی چی بادونه لیږی ، نو وریځی خوزوی - بیا یی دمړه ښار په لوری خوزوو نو په همدی سره ځمکه له مرګ نه وروسته راژوندی کړو همدا راز به وی له قبرونو نه راپورته کیدل دا آیت ښیئ چی .

۱ - بادونه . وریځی په بیلو بیلو خواوو تقسیموی او خوزوی .

۲- همدا دوی له ځان سره ، وریځی ، لری لری ځایونه وړی .

۳ - دوی دباران دوریدو او دځمکی دبیا ژوندی کیدو سبب کیږی .

٤ - له مرګ نه وروسته ژوندونه او بعثت په همدا راز ترسره کیږی .

ددغو او دیته دورته آیتونو په رڼا کی په پوره وضاحت سره پدی پوهیدی شو چی دالذاریات دسوری په قسمونو کی هغه بادونه مراد دی چی د اوبو بخارات دبحر له سطحی نه پورته کوی - چی کله دا بخارات پورته دسړی هوا په وجه په وریځو بدل شی . دهمدی بادونو په اوږو لرو لرو منطقو ته وړل کیږی او په مختلفو سمتونو ویشل کیږی - اودباران دوریدو او په همدی سره دځمکی په سر د ژوندی شیانو دزرغونیدو سبب کیږی - اوهمدا شهادت ورکوی چی دمرګ نه وروسته دبیا ژوندون وعده ریښتونی وعده ده ، مګر نه ګوری چی هره ورځ - همدا بادونه په همدی ترتیب مړه ځمکه راژوندی کوی ؟ ددی ملموس حقیقت دمکرر لیدلو او دمړی ځمکی نه دیوه باران په ذریعه د راز راز نباتاتو دزرغونیدو سره سره څنګه دبیا ژوندون نه انکار کوی او هغه محال اوناممکن ګڼی ؟

اوس که څوك دذاریات څخه بادونه مراد کړی خو له (حاملات وقرا) او (جاریات یسرا) څخه هغه بار داره کشتی مراد کړی چی په بحر ونو کی خوزیږی او له (مقسمات امرا) څخه ملائکی او یا کوم بل مفهوم واخلی له لاندی اعتراضونو سره مخامخ کیږی .

۱ - پدی ترتیب سره بی دآیتونو ترمنځ دمضمون یووالی ، نږدیوالی او تنسیق له منځه وړی

۲ - دبلاغت له مخی داتعبیر پدی خاطر دمنلو نه دی چی د(ف) هغه حرف چی وروستی آیتونه دمضمون او محتوی له اړخه لومړنی ته ورته اونږدی کوی ندی مراعات شوی .

۳ - دقسمونو او دقسمونو دځواب ترمنځ دقیقه او ژوره رابطه نشی ثابتیدی .

٤ - پدی راز تعبیر کی تفسیر بالقرآن نه بلکی تفسیر بالرای شوی .

په همدی سوره کی دلومړی قسمونو دځواب نه وروسته داسی لولو :

والسماء ذات الحبك - انکم لفی قول مختلف قسم په هغه آسمان چی دلاروخاوند دی ،

بیشکه چی تاسو په مختلفی خبری کی یاست .

د حبك اصلی معنا یا لارهدی چی احتمالا دستورو مدارونو ته اشاره کوی اویا یی معنا کلك تړل دی چی پدی صورت کی دآیت ترجمه داسی کیږی .

قسم په آسمان ، چی کلك تړل شوی لری یعنی : آسمان لدی کلك اومحکم نظام سره چی بی شماره ستوری اوسماوی اجرام یی په خپله غیږ کی داسی کلك ساتلی چی نه پریږدی یو له بل سره تصادم وکړی .یو دبل په مدار کی داخل شی . هریو په خپل معین مدار کی په منظم طور مخکی درومی دآسمان دامحکم نظم پدی حقیقت ګواهی ورکوی چی دبعثت او دبیا ژوندون نه دانکار کوونکو خبره بی بنیاده اودحقایقو خلاف ده .

پاتی په ۳ مخ ۱۰ ستون

ترجمه قرآن عظیم الشان

ح

بسم الله الرحمن الرحیم

الرحمن

همان مهربان ○ بیاموزاند قرآن ○ بیافرید انسان ○ بیاموزاندش سخن گفتن وبیان ○ آفتاب ومهتاب اندپابندبه حساب ○ وبته ودرخت اند سجده کنان ○ وآسمان را برافراشت وبنهاد میزان ○ تاتجاوز نکنید درمیزان ○ ودرست کنید وزن رابه انصاف ومکاهید میزان ○ وزمین رافرونهاد براي زنده جان ○ درآن میوه وخرمایي داراي غلاف هاواکمام ○ ودانه بي پوست دار وریحان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان تکذیب کنید هردوي تان ○ انسان را ازگل خشك صداداړچون سفال آفرید ○ وجن را ازشعله آتش آفرید ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان تکذیب کنید هردوي تان ○ پروردگارهمان دو مشرق ومغرب ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان تکذیب کنید هردوي تان ○ بهم آورد دو دریاراکه باهمدیگر ملاقات کنند ، میان شان پرده یي، که تجاوز نکنند آنان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگار تان تکذیب کنید هردوي تان ○ برمي آید ازآن دو، مروارید ومرجان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان تکذیب کنید هردوي تان ○ واوراست روندگان برافراشته شده بي دربحرچون کوه ها ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان ، تکذیب کنید هردوي تان ○ فناشونده است هرکي برآن است ○ وباقي بماند روي پروردگارت ، صاحب جلال واکرام ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان تکذیب کنید هردوي تان ○ سوالش کند هرکي درآسمانها وزمین است، هر روزي (هرزماني) باشد درشغلي وشأن ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان تکذیب کنید هردوي تان ○ بزودي فارغ شویم براي تان اي شما دوگران وزنان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ اي گروه جن وانس ! اگر میتوانید که نفوذ کنید ازکناره هاي آسمانها وزمین، پس نفوذ کنید، نفوذ نتوانید مگر باقوه وسلطان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ فرستاده شود برشماشعله هاي بي دود آتش وگداخته شده یي، پس موفق نشوید هردوي تان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ پس چون بترگد آسمان، پس باشد چون روغن مزاب گلاب گونه ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان ، تکذیب کنید هردوي تان ○ پس درآنروزي گناهش پرسیده نشود از هیچ جني وهیچ انسان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ گنهگاران ازچهره هاي شان شناخته شوند . پس گرفته شوند از کاکل ها وپاها ○ پس به کدامین نعمت هاي پروردگارتان ○ تکذیب کنید هردوي تان ○ اینست جهنمي که نسبت دروغ کردند به آن گنهگاران ○ گردش کنند میان آن ومیان گرم آب جوشان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان ، تکذیب کنید هردوي تان ○ وبراي کسیکه ازایستگاه دربرابر پروردگارش بترسد ، باشد دوبوستان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ داراي شاخه هاي پربرگ وبار○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان ، تکذیب کنید هردوي تان ○ درآن ، دو چشمه بي روان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان ، تکذیب کنید هردوي تان ○ درآن ازهرمیوه بي جفت دوسان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگار تان تکذیب کنید هردوي تان ○ تکیه کنان بربسترهایي که استرش ازابریشم صد برگ است وچیدني هردو جنت ، نزدیك وپایان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ درآن زنان فرودارنده چشم که ازاله بکارت نکرده است آنانرا نه آدمي ونه جني قبل ازایشان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان ، تکذیب کنید هردوي تان ○ گویا آنان اند یاقوت ومرجان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ آیاهست پاداش احسان غیرازاحسان ؟ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ وپایان تر ازآنهاست دوبوستان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ سرسبزتیره سان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ درآن چشمه بي فواره کنان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان تکذیب کنید هردوي تان ○ درآن میوه یي وخرمایي واناردستان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان ، تکذیب کنید هردوي تان ○ درآن پسندیده زنان زیبا جمال ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ حور هاي جاي بند درخیام ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ ازاله بکارت نکرده است آنانرا نه آدمي بي ونه جني قبل ازایشان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان تکذیب کنید هردوي تان ○ بربالشهاي سبزوفرش نفیس تکیه کنان ○ پس بکدامین نعمت هاي پروردگارتان، تکذیب کنید هردوي تان ○ بابرکت است نام پروردگارتان صاحب جلال واکرام ○

په افغانستان کښی دجنرال بابر دلړزوونکیو کارنامو یوه پاڼه

ژباړه : عبدالودود "محسن"

دپاکستان له کراچي ښارنه خپریدونکي لوړتیراژه اونیزي تکبیر د ۱۹۹۷ میلادي کال دمارچ دمیاشتي په یوولسمه ګڼه کي « له چمن نه بخاراته » تر عنوان لاندي په افغانستان کي دجنرال بابر دکارنامو ریوټ خپور کړي چي ستاسي دلوستونکیو دمعلوماتو په خاطرئي ژباړه نشرته سپارو .

(اداره)

جنرال نصیرالله « بابر» چي دیوځانګړي مزاج خاوند دي دیوداسي شخصیت په نامه شهرت لري چي په عقل کښي ځان ترهرچاپورته ګڼي اودهرډول کورنیواوبهرنیو مسئلو دحل لپاره صلاحیت لري، هغه دیوخبره منونکي اوتابعدار انسان په توګه تل دبي نظیربوتو په خاصو ملګروکي شمیرل کیده، دهغه د « جرأتونو» کیسي له کراچي نه ترافغانستانه خوري دي، که دهغه داټولي کیسي راټولځاي شي نوله هغي نه به دیوي جمهوري پولتي دبراقسوستاکه تصویر راښکارند شي ، لیکن دبي نظیربوتو دور دداسي بي شماره تصویرونو « هنري سالون» دي .

دافغانستان دلاهجي دپیچلتیا ، دمجاهدینوپه باب ناروا اوغیردوستانه سلوك، اودامن په نامه افغانستان دیوي نه ختمیدونکي کورني جګړي اورته دتیل وهلو ټوله پړه دبي نظیربوتو ددماغ شارګ « نصیرالله بابر » په سرده، بابرته دذوالفقار علي بوتوپه وخت کي دافغانستان دحکومت خلاف تحریك په لړکي مشره دنده ورسپارل شوي وه چي دخپلو کړد وړو داغ لااوس هم پرخپل تندي ویني ، دهغه پرذهن داخبره سپره ده چي جنرال ضیاءالحق ولي دیو اتل په توګه وګڼل شوځکه اصلاً خو لویه هغه پیل کړي اوتوده کړي وه دجنرال ضیاء الحق داغیزي دلیري کولو او خپل ځان دافغانانو دیولوي مربي اوخیرخواه په توګه دښودلو لپاره دلته فکره نصیرالله بابر په زړه اودماغ کي نوي نوي پلانونه راپیداکیدل .

بابر صاحب دمنصب په اعتبار دکورنیو چارو وزیرو ، خو دخداي ورکړیو صلاحیتونو له امله دهغه واك اواقتدار څه پولي نه لري، دسندایالت په مستقیم ډول دهغه په ولکه کي ورکړل شوي ؤ . او کراچي خودهغه دخوښي دښکارځاي و، دایالت اعلي وزیر دهغه په وړاندي دیو عادي مامور حیثیت درلود . دافغانستان دپیچلي مسئلي دغوښي خلاصون دهغه دنوکانو تدبیرته پاتي و . دمکتب دهلکانو دسرویس تښتولو ډرامه په بهرنیو چاروکي د بابر صاحب دهوښیاري اوزیرکي یوه بیلګه وه ، دداسي حکمت اوپوهي یوه نایابه نمونه په کال ۱۹۹٤ ع په وروستیو کي هم مینځته راغلي وه چي لاتراوسه ئي تفصیلات دعامو خلګومخي ته نه دي راغلي . ددي ډرامي پیل داسي وچي دهیواد صدراعظمي بي نظیربوتو دمنځني آسیا دملکونو ددوري پروګرام جوړکړ، په دي دوره کي دزړه دپټومقصدونو لپاره دبابرصاحب استعمالیدل و، یومقصدخوداوچي دافغانستان اومنځني اسیاپه ملکونوکي خپله بابر صاحب دلوړکچ دیولارښودپه توګه ووپیژندل شي . دویم داچي بي نظیربوتو دافغانانو دیوي خواخوږي اودمنځني آسیادملکونودمربي په حیث مطرح شي، او دریم مقصد داوچي مجاهدین له پامه وغورزوي اوپاکستان مستقیماً دمنځني آسیا له ریاستونو سره خپلي اړیکي ټینګي کړي که ددي مقصد لپاره دیوبل قوت درامنځته کیدو اړتیاوي هم څه پروانشته ، دادوره د۱۹۹٤ کال داکتوبر په میاشت کي کیدونکي وه لیکن دخپلي اجنډا دجزئیاتو اوتفصیلاتو دمعلوملو لپاره جنرال بابر د۱۹۹٤ کال په منځ کي یولوي هیئت له ځان سره روان کړددي وفد په ښکاره دامقصدوښودل شو چي دمنځني آسیا له ریاستونو سره دپاکستان دتښلولویوه ډاډمنه ځمکني لارلټول کیږي پدي هیئت کي دسوداګري ملي اداری جاوید بیګ اودمالیي دوزارت دوه عالیرتبه مامورینو اود لویو لارو دمحکمي مشر جنرال هدایت الله خان نیازي هم ګډون درلود .

داوقد دچمن له لاري قندهارته روان شو، چي له قندهار،هلمند ، هرات، اشك آباد ، سمرقند، تاشقند، کرغیزستان ، کاشغر او دچین له سرحدي سیموته په تیریدو ګلګت ته ورسید. جنرال بابر دخپلي دغي پټخلس ورځني دوري نه په راستنیدو یوپلان جوړکړ چي دوه مهمي برخي ئي درلودي یوه داچي له چمن نه ترکندهار اوهراته اوبیا تراشك آباد پوري دسوداګري لارباید له مجاهدینو پاکه کړي شي، داسرك دي پاکستان جوړکړي اودهغي افتتاح دي هم نصیرالله بابربایي نظیربوتو پخپله وکړي دپلان دوهمه برخه داوه چي ددي عمومي سرك په اوږدو پرتو دمهمو ښارونو والیانو او د منځني آسیا ریاستونوته دي سوغاتونه ولیږل شي اوپه دي ډول سره دي هغوي ایل کړي شي ددي سوغاتونو پروګرام داسي ترتیب شو چي په کومه ورځ وزیراعظمه اشك آباد اوبخاراته رسیږي په هماغه

پاتی په ٤ مخ ۷ ستون

از فراز منبر

حقیقت حج

ترجمه : حاضرم ، ای ا لله حاضرم ، هیچ شریك نیست ترا، حاضرم ، شکرتراست ،نعمت ها تراست اقتدارتراست ، هیچ شریك نیست ترا .

باید تذکرداد که شکر درمیان تمام بخش های رابطه باخدا حیثیت اساسی وبنیادی دارد به مجرد بستن حرام کیفیت روزه پیدا می شود و روابط زناشوهری ممنوع قرار می گیرد ، ازسه راهیکه عموماً شیطان بالای انسان اثر اندازی می کند آنها مسدود می گردند ، چنانچه قرآن مجید درجاییکه آداب حج را بیان میدارد در آنجا همین چیزها را موضوع قرارمیدهد و میفرماید : « الحج اشهرمعلومات فمن فرض فیهن الحج فلارفث ولافسوق ولاجدال فی الحج و ما تفعلوا من خیریعلمه الله وتزودوافان خیر الزاد ا لتقوی واتقون یا اولی الالباب .»

حج ماه های معین دارد ، چنانچه کسیکه در آن عزم حج کند براولازم است که ازفحش گوئی گناه ونافرمانی وجنگ وجدال اجتناب نماید، آنچه ازنیکی انجام دهید خدا ازآن باخبراست توشه (تقوی) را باخود بگیرید زیرا بهترین توشه تقوی است وای صاحبان عقل ازمن بترسید . نافرمانی خدا، سخنان فحش وشهوانی گفتن و جنگ وجدل وسایل و ا سبابی اند که بواسطه آن شیطان انسان را به بیراهه کشانیده می تواند ، همین سه چیز است که شیطان انسان را به آن ترغیب میدهد ، خداوند حاجیان را ازآن منع کرده تمام راه های اثراندازی شیطان را می بندد . کیفیتی که از روزه داشتن در وجود یك مومن طاری می گردد ، عیناً همان کیفیت بابستن احرام دریك مومن طاری می گردد . هما نطوریکه یك روزه دار احساس می کند که چون روزه دارد باید از سخنان فحش وشهوانی اجتناب کند ، به اشیای خورد ونوش به قصد استفاده ازآنها قریب نشود وازگناهان خود را بدور نگه دارد همین طور احرام هم حاجی را ازاین احساس سرشارمی گرداند که او به قصد خانه خدا آمده پس باید ازگناه ها وزشتی ها اجتناب کند به همین ترتیب چنانکه روزه دار با عدم مراعات آداب وشرایط روزه جزتشنگی وگرسنگي چیزی بدست آورده نمی تواند همینطور حاجی هم تمام سعی وتلاش خویش را به سبب عدم اجتناب ازمناهی حج ضایع وبرباد می کند.

حجراسود بطورعلامت دست خدا نامیده شده است ، طواف ازلمس کردن یا بطرف آن اشاره کردن ودست بلند کردن آغازمی گردد، لمس کردن یا دست گذاشتن یك طریقه توثیق معاهده می باشد ، حاجی طواف را با این عمل آغازنموده بسم الله ، الله اکبرگفته دعائی را به زبان ورد می کند که با آن عهد وفا تجدید می گردد .

اللهم ایمانابك وتصدیقاً بکتابك ووفا، بعهدك و اتباعا بسنة نبیك محمد صلی الله علیه وسلم . ای الله حاضرم بخاطرایمان بتوتصدیق به کتاب تو ووفا به عهد تو و پیروی سنت پیامبر تو، سعی ، علامت احسا س نصرت وحمایت دین است ، پیکراتم آن شخصیت حضرت ابراهیم علیه السلام است ، حضرت ابراهیم علیه السلام زمانیکه پسرش را برای قربانی بطرف قربانگاه می برد درمیان صفاومروه قربانی را چند بارگشتاند وهمین عمل است که به عنوان سعی جزمناسك حج قرار گرفت ، تراشیدن موی سر در ازمنه قدیم علامت غلام شدن محسوب می شد، زماني که کسی غلام کسی می شد سراو را می تراشیدند ، حاجی هم موی سرش را تراشیده خود را غلام پروردگار عالمیان جلوه میدهد .

سپس وقوف درعرفات به معنی این است که مومن بحضور خداایستاده شود ، پیامبر علیه السلام درین موقع سنت قرارداده است که انسان بعد ازخطبه ونمازهای ظهروعصررخ بطرف مغرب نموده تازمانی ایستاده شده دعاکند که آفتاب غروب کند، دراین دوران مومن گناهان خویش را بیاد آورده استغفار می کند وبه دعا مصروف می شود .

گرچه وقوف درمزدلفه نسبت به عرفات مختصرتر است لاکن سفردرمیان عرفات ومزدلفه بطورمعنوی علامت سفرجهاد است ، دریك مقام انسان ازسفر بازمی ماند وقیام می کند سپس بطرف منزل دوباره حرکت می کند، دراین دوران نمازها هم به علت مشابهت به جهاد قصرخوانده می شوند .

جمره زدن درحقیقت علامت مقابله با دشمنان دین وخدا می باشد ، به این ترتیب مومن احساس وجذبه جهاد با دشمنان خدا را اظهار میدارد.

قربانی آخرین مرحله جهاد محسوب می گردد به این ترتیب قربانی درحج علامت نثارکردن جان درجهاد قرار داده شده است ، مومن دراین موقع چنان در راه خدا قربانی می کند که همان طوریکه بخاطرخشنودی وکسب رضای خدا حیوان را قربان می کند اگربخاطر دین او به قربانی ضرورت افتد جانش راهم قربانی می کند .

چند هشدار و احتیاط :

مقصد ازحج خشنودی وکسب رضای خدااست ، قرآن مجید دراین رابطه هدایت میدهد : واتموا الحج والعمرة لله ، حج وعمره را فقط بخاطر خشنودی خدا انجام دهید ، یعنی مقصود رضا وخشنودی خدا باشد نه کدام مقصد دیگر.

ادامه دارد

عبدالله ابن عباس (رض) مفسر قرآن

از این روایت مطالب آتی برمی آید :

اول اینکه دراسلام اصلاً معیارفضیلت وبرتری قرآن فهمی است ، هرکس ازآن بهره وافرداشته باشد درمیان امت اهل وشایسته است که درهرمشوره حضوریابد واظهار نظرکند . در ابتدای اسلام شرف وسعادت بزرگ مسلمانان شرکت درغزوه بدر بشمارمیرفت . تاحدیکه کسانیکه از این سعادت محروم بودند خود را باسهم داران درجنگ بدربرابرنمی دانستند ، لاکن حضرت عمر رضی الله عنه یك جوان کم عمر را در پهلوی شرکای بدر نشانده از وی چون دیگربزرگان مشوره می خواهد وزمانیکه بعضی بزرگان ازحضور او درمجالس اظهارنگرانی می نمایند حضرت عمررضی الله عنه اور را راجع به قرآن فهمی مورد امتحان قرار داده بردیگران ثابت می کند که این جوان هرچند سنش کم است لاکن به علت دست رسی درعلوم قرآن استعداد واهلیت حضوردرمجالسی را دارد که در آن اکابرین امت راجع به مسایل امت به شورو مشوره می پردازند .

مطلب دومی که از این روایت برمی آید همانا روش تربیت است که حضرت عمررضی الله آن را اختیار می کند حضرت ابن عباس شاگرد اوست ، وی علوم قرآن را از عمررضی الله عنه وسپس ازعلی رض الله عنه وابی ابن کعب رضی الله عنه فرامی گیرد ، روش آموزش عمررضی الله عنه چنان نبود که سبقاً سبقاً او راتعلیم داده باشد بلکه مشکلات قرآن را ازشاگردش می پرسید وراجع به آن ازوی سوال می کرد وبه این ترتیب برای اوفرصت میداد که استعداد های خسپیده دروجودش را بیدارنموده ودرفهم قرآن جولانی نشان دهد که این کلید علم است . مطلب سوم که از این روایت دانسته می شود بیدارمغزی وخیرخواهی حضرت عمررضی الله عنه راجع به امت است ، اوبحیث یك حکمران هماطوریکه راجع به حال امت فکر میکرد راجع به آینده آن نیز فکرمند بود . ازنظراومهمــــــــترین عنصربرای آینده امت تربیت و پرورش جوانان با استعداد بود . اوعملاً ثابت کرد که رشد وانکشاف استعداد های جوانان امت ازفرایض مهم حکمرانان مسلمان بشمارمیرود . وی نه تنها خود این فریضه را احساس کرده بجا آورد بلکه بزرگان ملت اسلامی رانیزبطرف آن متوجه نمود. تاحدیکه اگر در رابطه با پیدا کردن این احساس درمیان امت، ناگواری هائی هم پیش آمد آن را بدون تکلیف متحمل گردید .

مثال های دیگری هم سراغ می شود که طی آن حضرت عمررضی الله عنه عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما را تشویق وترغیب نموده است تا استعداد های خود را بیشتر رشد وانکشاف دهد. چنانچه بخاری روایت می کند که روزی حضرت عمر رضی الله عنه درمجلس اصحاب سوالی کرد کـــــــه آیه : «ایوداحدکم ان تکون له جنة من نخیل واعناب » راجع به کی نازل گردیده است ؟ مردم جواب دادند که خداوند بهترمیداند ، عمررضی الله عنه قدری به قهر شده فرمود بگوئید که میدانیم یانمی دانیم ، عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما عرض کرد ، ای امیرالمومنین در دلم راجع به این آیه کریمه چیزی خطور می کند ، عمررضی الله عنه فرمود : آ نچه دردل داری آن را حقیر مشمار و اظهار کن ، حضرت ابن عباس عرض کرد که این مثال عمل یك شخص است، عمررضی الله پرسید مثال عمل چه کسی : وی گفت مثال عمل شخصی مالدار است که همیشه مصروف نیکی است لاکن بالاخره شیطان او را فریب داده بطرف بدی می کشاند تاجاییکه تمام اعمال نیك او برباد می گردد.

ازاین معلوم شد که گرچه عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما درمجالس بزرگان ازلب کشودن حیامیکرد . لاکن به این قایل نبود که به حضور استاد و امیرخویش هم اظهارنظرنکند . خصوصاً که ازاوخواسته می شد . اگرگاهی بنا برکمی سن قدری شرم احساس هم می کرد، حضرت عمررضی الله عنه آن را رفع می کرد، به این ترتیب او ازمواقع رشد فکری که عمررضی الله عنه برایش فراهم می کرد استفاده برده به رشد وانکشاف استعدادهای خویـــــــش می پرداخت .

ابونعیم روایت می کند که یك مرتبه حضرت عمررضی الله عنه درمجلسی ازمهاجرین حضورداشت ازشب قدریاد شد وهریك راجع به آن اظهارنظرکرد ، عبدالله بن عباس رضی الله عنهما خاموش بود، عمر رضی الله عنه بطرف اومتوجه گردیده فرمود : عبدالله توچراخاموشی وحرف نمی زنی ، آیا ازکم سنی خویش شرم می کنی ، سپس عبدالله بن عباس رضی الله عنهما یك تقریر نهایت بلیغ وفصیح نمود، خلاصه تقریرش این بود که به نظر او شب قدر درهفت شب اخیررمضان است .

عمررضی الله عنه تقریر او راشنیده چنان متاثر شد که فرمود : دراین باب بجز اینجوان که تاهنوزاستخوان های جمجه اش هم تکمیل نگردیده است کسی مطلب مرا درك نکرد . سپس متوجه مجلس گردیده فرمود : ازمیان شما چه کسی میتواند بحضور من این مطلب را به چنان خوبی بیان کند که عبدالله ابن عباس بیان کرد .

یك مرتبه شخصی نزد عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما آمده راجع به آیه، «ان السموات ولارض کانتارتقاً...» پرسید وی برایش دستورداد که تاویل این آیه کریمه را رفته ازعبدالله بن عباس رضی الله عنهما بپرسد وجواب را آمده بمن بگوید ، موصوف نزد عبدالله ابن عباس رفته راجع به آیه فوق الذکر پرسید، عبدالله ابن عباس برایش گفت ، بند بودن آسمان معنایش این است که باران نمی بارانید وبند بودن زمین این بود که نبات نمی رویانید ، خداوند آسمان را باز کرده ازآن باران بارانید وزمین را بازکرده ازآن نبات رویانید . آن شخص این جواب راشنیده نزد عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما آمده شنوانید ، عبدالله ابن عمر چون جواب را شنید فرمود راجع به علوم قرآن جسارت ابن عباس مرا چندان خوش نمی خورد اما اکنون معلوم شد که دراین باب او دسترسی خاصی دارد .

عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما دارای یك شخصیت جامع بود که به همه اطراف زندگی ومسائل مربوط به آن نظر داشت ، در «استعیاب » مذکور است ، عمرابن دنیارراجع به عبدالله ابن عباس می گوید مانند مجلس عبدالله ابن عباس مجلس پرازخیرو جامع همه مسائل زندگی هرگز مشاهده نکردیم درآن ازحلال و حرام سخن گفته می شد، ازشعرو ادب بحث بعمل می آمد وهرنوع مسایل زیربحث می آمد .

عبیدالله ابن عبدالله می فرماید : من شخصی دوراندیش وصاحب الرأی چون عبدالله ابن عباس ندیدم که راجع به سنت پیامبر علیه السلام به این پیمانه عالم باشد .

